مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

داکتر صلاح‌الدین سعیدي

۲۰۲۶/۱۱/۱۸

افغانان دې خپل وطن کې ژوند وکړي

دغه خطاب ستري پوښتنې راولاړوي چې ځواب يې حتمي دی!
دغه غوښتنې او خطاب کې د غايب ضمير کارول شوای! ولې مخاطب د افغان ملت، مستقيم نه دی خطاب شوای؟
. افغان په خپل وطن کې د وطن پر مسايلو او وسايلو د تصميم نيولو حق لري، که په دوامداره توګه بې صلاحيته، رعيت شمېرل کېږي او پاتې کېږي؟
. دا بې صلاحيته رعيت د خپل اولأمر په انتخاب او د نظام په مشروعيت کې حق لري، که نه لري؟
. حضرت ابوبکر د وخت د حالاتو سره سم د انتخاب او بيعت، حضرت عمر در شورای حل و عقد او بيا روسته حضرت علی او ... انتخاب او نن ددې ټولو نه ېوه مجموعه او بسته جوړول به درست نه وي؟
. د مشروع حاکميت کې د رعيت او وګړو حيثيت د سامع او فرمانبردار حيثيت دی که نه حاکم او امير ته څه د ويلو حق لري (امير المؤمنين حضرت عمر ته خو په عام مجلس کې ويل کيدل او اعتراض پرې کيده او...).
. او در رعيت حقوق او وجايب چېرته او په کوم قانون او فرمان کې، له کومو حقوقو او وجايبو سره، روښانه شوي اومشروع تضمين دي که يه؟
په تېرو ۶ کلو کې سيستم او نظام ځوتنه د حاکميت له ډلې محاکمه کړي، چې د رعيت او وګړو پر حق يې تجاوز کړای او له نورو تېر، هغوی يې شهيدان کړي او فلم يې هم تري جوړ کړای؟
هو ددې افغان، رعيت حقوق او وجايب په کوم قانون کې په مدون او مشروع ډول د قرآن کريم او سنت رسول الله (ص) له هداياتو سره سم مدون، مشروع تنظيم شوي دی؟
. د اوسنې امير او د صدر اسلام امير تفاوت په څه کې دی! هغوی د لمانځه پر وخت شهيدان نه شول؟ ولې هغوی له خلکو پټ نه شول؟
. د امير شايستګی او د انتخاب ډول او مدت؟
. د دارالافتا د وجود اړتيا؟
دا او په لسهاو نو سوالونه چې خلک ځواب غواړي!
د افغان ملت مسلمان اوًمجاهد ملت دی، ملا لري، طالب او علما لري او ددوی انتخاب به د اسلام په چوکاټ کې وي او انشاء الله تعالی دی!
افغانستان د قرآن کريم او سنت رسول الله سره سم، ملي مرکز وثيقه (قانون اساسي) ته په کلکه اړتيا لري او د قانون په چوکاټ کې ژوند کولو ته اړتيا شته، کومې کې چې حاکم او رعيت دواړه، پر خپلو حقوقو او وجايبو آګاه وي!
حاکم بواځې او بواځې د قانون د تطبيق مکلف وي او رعيت په ښکاره او تعريف شوي او مدون ډول خبر وي، چې حقوق او وجايب يې کوم دي؟
ددې قواعدو، اصولو او چوکاټونو پرته دولتداری او حاکميت، امنيت او د رواني سالمې فضاء کې ژوند سخت کار او دعوت افغانستان ته د ژوند لپاره، ددې عملی اقداماتو او تدابيرو پرته، ښه، عملي او صادق دعوت نه دی!
و ما علينا الا البلاغ (المبين)

داکتر صلاح‌الدين سعيدي
د ۱۴۰۵ کال د قوس د مياشتی ۲۷
د ۲۰۲۶ کال د نوامر مياشت
۰۰۴۴۷۸۸۶۴۷۴۶۳۸

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ